Throughout these engagements, Deputy Prime Minister Hanafi outlined the key achievements of the Islamic Emirate across various sectors. Both parties held in-depth discussions on enhancing bilateral cooperation in areas such as trade, economic development, healthcare, education, and academic exchange. The talks also focused on strengthening diplomatic and strategic ties between Afghanistan and China.

On the sidelines of the visit, the delegation toured leading agricultural and pharmaceutical research centers in Yunnan Province. They also visited exhibition booths operated by Afghan entrepreneurs showcasing Afghan products and goods at the China–South Asia Expo. #

# Ministry of Labor Launches Vocational Programs for 800...

...offers skills development in five trades: tailoring, shoemaking, bag production, building electrical systems, and household appliance repair.

Speaking at the inaugural ceremony, Mawlawi Abdul Wahid Faiz, Director of Vocational Training Centers Coordination, welcomed the participants and guests, emphasizing the significance of this initiative for individuals who have successfully completed rehabilitation. He encouraged trainees to make the most of this valuable opportunity and to remain committed to their education and skill development.

Following this, Mawlawi Mohammad Zahid Ahmadzai, Deputy Minister for Labor Affairs, stated that the Ministry, alongside its other responsibilities, remains deeply committed to supporting the reintegration of those recovering from addiction. He noted that this latest initiative once again provides essential vocational training to 800 citizens over a period of four and a half months across five specialized trades. The deputy minister further emphasized that such programs are not limited to Kabul; similar initiatives are being implemented in other provinces as well. To date, over 6,000 individuals recovering from substance abuse have benefitted from these programs, many of whom are now leading productive lives as skilled workers and primary providers for their families.

Concluding the event, Mufti Abdul Haq, Director of Demand Reduction at the Ministry of Interior Affairs, underscored the government's broader strategy in combatting narcotics. He highlighted several key areas: the reduction of narcotics cultivation and trafficking, nationwide efforts to collect and treat individuals struggling with addiction, and the integration of vocational training as part of rehabilitation. These, he said, are vital components of the Islamic Emirate's comprehensive approach to addressing the narcotics challenge in Afghanistan. #

# د غزني ولایت د سلطان بند د حفظ او مراقبت پروژې چارې د څه باندې...

...دغه پروژه د اوبو او انرژۍ د سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور، د غزني والي محترم مولوي عبدالصمد جاوید، سلاکارانو، رئیسانو، قومي مشرانو او د سیمې د گڼ شمېر اوسېدونکو په شتون کې پرانیستل شوه.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر په دغو مراسمو کې د سلطان بند ارزښت د اوبو د مدیریت او د کرنې د پراختیا په برخه کې حیاتي وباله.

ښاغلي منصور ټینگار وکړ، چې له نیکه مرغه د اسلامي امارت په هڅو سره په هېواد کې شرعي نظام، امنیت، اقتصادي پراختیا، قومي یووالی او د یو بل منلو فضا را منځته شوې، له همدې کبله خلک هم مسئولیت لري، چې له دغه نظام څخه په اخلاص، اطاعت او وفاداري سره ملاتړ وکړي.

په ورته مهال، د غزني والي په دغو مراسمو کې د اوبو او انرژي وزارت کړنې وستایلې او د سلطان بند پروژه یې د اوبو د مدیریت په برخه کې یوه ارزښتناکه لاسته راوړنه وبلله.

له بلې خوا، د اوبو او انرژي وزارت د مقام سلاکار محترم ډاکټر فاروق اعظم په دغو مراسمو کې وویل، د خوښۍ ځای دی چې د افغانستان خلک هره ورځ د امن په فضا کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د ټولگټو پروژو د پرانیستې شاهدان دي.

د یادونې وړ ده، چې په دغه پروژه کې د بند لوړوالی د دوه نیمو مترو په اندازې سره، د بند تر گواښ لاندې سیمو د بیارغونې او ټینگښت، د پاورهاوس جوړونه، د اوبو وتلو پایپونو بیارغونه، د دروازو بیارغونه، د پرچاوو بیارغونه، د چک او کنټرول په موخه پر بند باندې د سانسورونو نصبول، د بند پر محور باندې د لمریزو گروپونو نصبول او د ساتونکو د ودانۍ جوړونه شامله ده، چې د یوه کال په موده کې به بشپړه شي.

د دغې پروژې په پلي کېدو سره به د بند لوړوالی له ۳۵ متره څخه ۳۷اعشاریه ۵ متره او د ذخیرې وړتیا به یې له ۹ میلیون متره مکعب اوبو څخه ۱۳ میلیون متره مکعب اوبو ته لوړه شي، چې په ټوله کې به کابو ۱۰ زره هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبه شي.#

# دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با مسئولین، شخصیت‌های اکادمیک و اساتید پوهنتون‌های ولایت یون‌نن چین و محصلین چینی و افغان

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با آقای ما وینگهویی رئیس پوهنتون یون‌نن، آقای یی جیانگهونگ رئیس پوهنتون علوم ساینس و تکنالوژی کونمینگ، لیو قینگجیانگ رئیس پوهنتون مطالعات قومی یون‌نن، آقای لی لیهوا معاون پوهنتون طبی کونمینگ، شخصیت‌های اکادمیک، اساتید پوهنتون‌های یادشده و جمعی از محصلین چینی و افغان در جریان سفر رسمی اش به جمهوری مردم چین، دیدار نمود.

در این دیدار که هیأت معیتی معاون اداری ریاست الوزراء نیز حضور داشت، هر دو جانب در مورد ایجاد روابط علمی و تحقیقی میان پوهنتون‌های افغانستان و چین، برگزاری سیمینارها، تبادل تجربیات علمی، تحقیقی و تکنالوژیکی و نیز همکاری‌های آموزشی و صحی میان پوهنتون‌های دو کشور، بحث و تبادل نظر نمودند.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی با ابراز امتنان از استقبال گرم از هیات امارت اسلامی، در خصوص وضعیت فعلی افغانستان و دستآوردهای امارت اسلامی در زمینه‌های تامین امنیت، فراهم سازی فرصت‌های مناسب تجارت و سرمایه‌گذاری در بخش‌های مختلف، ریشه‌کن نمودن کشت، قاچاق، تجارت و استعمال مواد مخدر، محو فساد اداری و جمع آوری معتادین معلومات ارائه کرد.

معاون اداری ریاست الوزراء با اشاره به تجربه های موفق جمهوری مردم چین در بخش های علمی و آکادمیک، خواهان تبادل مشارکت علمی و تحقیقی میان نهادهای تحصیلی دو کشور در بخش‌های مختلف به ویژه طب، زراعت، مهندسی و تکنالوژی گردید.#

# د هلمند ولایت په سنگین ولسوالي کې د نهر السراج...

...دغه پروژه د اوبو او انرژۍ د سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور، د هلمند والي محترم مولوي عبدالرحمن مسلم کندوزي، د ملي پراختیا شرکت معین محترم مولوي عبدالولي عادل، علماوو، قومي مشرانو، د وزارت تخنیکي مسئولینو او د سیمې د گڼ شمېر اوسېدونکو په شتون کې پرانیستل شوه.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر په دغو مراسمو کې د دغې پروژې پلي کول په هلمند ولایت کې د اوبو چمتو کولو او کرنې د ودې په برخه کې ارزښتناک وبلل او یادونه یې وکړه، چې د دغې پروژې په پلي کولو سره به د نوموړي کانال اوبه بېرته لومړي حالت ته وگرځي او د ټولو حقابه لرونکو حقابه به تامین شي. هغه زیاته کړه، چې د دغې پروژې برسېره په دغه ولایت کې د چکه‌مونو درې نورې پروژې هم په پام کې نیول شوې او په نږدې راتلونکې یې چارې پیلیږي.

د یادونې وړ ده، چې دغه پروژه د ۲۷۵ اعشاریه ۸ میلیونه افغانیو په لگښت د اسلامي امارت له بودجې څخه د ملي پراختیا شرکت سره قرارداد شوی، چې پکې د ۲۰۰ متره په اوږدوالي د سربند او آبگیر ودانۍ جوړونه، د ۶۵۰ متره په اوږدوالي سره د کانال بیارغونه او ټینگښت، پرچاوې، د سیند د بستر ټینگښت، د ساتونکو خونه او د کنټرولي دروازو نصبول شامل دي.#

# هیأت امارت اسلامی به ریاست معاون اداری ریاست الوزراء پس از سفر رسمی به چین...

...محترم مولوی عبدالسلام حنفی برعلاوه اشتراک و سخنرانی در نمایشگاه و فورم متذکره، با مقامات عالی رتبه دولت چین، والی و دیگر مسئولین ولایتی یون‌نن، رهبران ملی جمهوری مردم چین، رؤسای پوهنتون‌ها، اساتید، شخصیت های اکادمیک و تاجران و سرمایه‌گذاران آن کشور دیدارهای جداگانه انجام داد. در این دیدارها معاون اداری ریاست الوزراء دستآوردهای امارت اسلامی را در عرصه های مختلف تشریح نمود و هر دو جانب در خصوص همکاری‌های اقتصادی، تجارتی، صحی، آموزشی و اکادمیک میان افغانستان و چین و تقویت هرچه بیشتر مناسبات میان دو کشور نیز بحث و تبادل نظر نمودند. محترم مولوی عبدالسلام حنفی و هیأت همراه اش در حاشیه این سفر از مراکز علمی و تحقیقی علوم زراعتی و دوایی ولایت یون‌نین و همچنان از غرفه‌های تاجران افغان که محصولات و تولیدات افغانی را در نمایشگاه چین - آسیای جنوبی به نمایش گذاشته بودند، بازدید بعمل آورد.#

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایکو سازمان په اوولسمه سرمشریزه...

...د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اذربایجان په خنکندي ښار کې د ایکو سازمان په اوولسمه سرمشریزه کې گډون او وینا وکړه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پرمهال وویل، د افغانستان اسلامي امارت د متوازن او اقتصاد محوره بهرني سیاست د دوام په پایله کې، د روسیې فدراسیون له خوا په رسمیت وپېژندل شو. اسلامي امارت د دغه گام تود هرکلی کوي. له همدې امله، له ایکو سازمان سره د افغانستان د ژورې او اوږدمهاله همکارۍ په رڼا کې، د یاد سازمان له غړو هېوادونو هیله لرو چې د افغانستان مشروع سیاسي واقعیت درک کړي او د روسیې فدراسیون په څېر د رسمیت پېژندنې په لور عملي او مثبت گامونه واخلي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره بهرني سیاست، په افغانستان کې د شوو اقتصادي پرمختگونو، د پانگونې لپاره د موجودو فرصتونو او همداراز د افغانستان له لارې د سیمه‌ییزو مهمو اقتصادي پروژو د تطبیق او بشپړولو لپاره د برابرو شوو فرصتونو په اړه خبرې وکړې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایکو سازمان له غړو هېوادونو وغوښتل چې له یوه باثباته، باوري او همکار افغانستان سره د اقتصادي او سیمه‌ییزو همکاریو د پیاوړتیا لپاره د دوامداره پرمختگ او همغږۍ فضا جوړېدو ترڅنگ د سوداگرۍ، پانگونې، انرژۍ، ترانسپورټ، کرنې، چاپېریال ساتنې او اقلیمي بدلونونو په برخو کې له نږدې کار وکړي، چې افغانستان په یادو برخو کې له خپل لوري بشپړ چمتووالی لري. هغه زیاته کړه: موږ باور لرو چې د ایکو سازمان غړو هېوادونو اقتصاد هغه وخت ښه وده کولی شي چې افغانستان هم د دې معادلې متحرکه برخه وگرځي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایکو سازمان په اوولسمه سرمشریزه کې له مظلومو فلسطینیانو سره د افغانستان اسلامي امارت خواخوږي یوځل بیا څرگنده کړه او ویې ویل: هغه ظلم چې د غزې په مظلوم ولس کېږي، باید ژر تر ژره پای ته ورسېږي. موږ د فلسطین د ازادۍ او د بیت‌المقدس د اسلامي هویت د خوندي ساتلو پوره ملاتړ کوو. د ریاست‌الوزرا اقتصادي مرستیال وړاندیز وکړ چې: د اقتصادي همکاریو سازمان راتلونکې، یعنې اتلسمه سرمشریزه دې په کابل کې ترسره شي. موږ د دې سترې او ارزښتناکې ناستې د کوربه‌توب لپاره بشپړ چمتووالی لرو او د ټولو گډونوالو تود هرکلی کوو. د ایکو سازمان په اوولسمه سرمشریزه کې د غړو هېوادونو ولسمشرانو، لومړي وزیرانو او لوړپوړو چارواکو حضور درلود، چې د دغه سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ یې د سیاسي، اقتصادي، سوداگریزو، ترانزیټي، ترانسپورټي او کلتوري اړیکو، سیمه‌ییز اتصال او پانگونې په اړه د پوره همکارۍ او همغږۍ پر رامنځته کولو ټینگار وکړ.#

# د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پالیسي تایید...

...اقتصادي پالیسي به د هېواد د اقتصادي فعالیتونو په همغږي کولو، له منابعو څخه د غوره گټې اخیستنې او د خصوصي سکټور د ملاتړ په برخه کې مهم رول ولري. همداراز په غونډه کې مالیې وزارت ته هدایت وشو، څو د بغلان ولایت د مرکز پلخمري اړوند ۱۳ کلیو ته د برېښنا شبکې غځولو پروژې ته په ۱۴۰۴ مالي کال کې د اړتیا وړ بودیجه ځانگړې او د افغانستان برېښنا شرکت یاده پروژه تطبیق کړي. د غونډې په پای کې په بلخ ولایت کې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت پر ځمکه د سوداگریز مارکېټ جوړولو طرحه تایید شوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي سکټور د اته پوړیز سوداگریز مارکېټ جوړولو لپاره ۷۴۰ میلیونه افغانۍ پانگونه کوي چې ټولټال به ۸۷۸ دوکانونه ولري. همدارنگه په سرپل ولایت کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداگریز مارکېټ جوړولو طرحه هم تایید شوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي سکټور د معیاري سوداگریز مارکېټ جوړولو لپاره ۹۶ میلیون افغانۍ پانگونه کوي. پورته تصامیم د منظورۍ په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی دفتر ته واستول شول.#

# ارزگان ولایت کې د شفلوغ بند جوړولو پروژې چارې...

...دغه پروژه د ۱۶۵ اعشاریه ۹ میلیونه افغانیو په ټولیز لگښت د اوبو او انرژي سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبداللطیف منصور، د ارزگان والي محترم مولوي عنایت الله شجاع، د ملي پراختیا شرکت معین محترم مولوي عبدالولي عادل، د ارزگان د علماوو شورا رئیس محترم مولوي عبدالغفار، د وزارت تخنیکي مسئولینو، قومي مشرانو او د سیمې د گڼ شمېر اوسېدونکو په شتون کې د ارزگان ولایت د چنارتو ولسوالي په شفلوغ کلي کې پرانیستل شوه.

د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د دغې پروژې په پرانیست غونډه کې وویل، چې د شفلوغ بند جوړولو څخه موخه د اوبو مدیریت، د ځمکې لاندې اوبو سرچینو پیاوړتیا او د موسمي سیلابونو کنټرول دی.

هغه، په هېواد کې اسلامي نظام یو ستر الهي نعمت وباله او ټینگار یې وکړ، چې دغه نظام په ډېرو لږو امکاناتو سره په هېواد کې امنیت، روڼتیا، قومي یووالی او اقتصادي پراختیا راوړې ده. ښاغلي منصور د شفلوغ بند چارو په پرانیست غونډه کې یادونه وکړه، چې د اوبو او انرژي وزارت په پام کې لرې، چې په ارزگان ولایت کې د لمریزې برېښنا پروژې هم پلې کړي، او په راتلونکې کې به شته امکاناتو ته په کتو سره د هغوی د ترسره کولو لپاره اړین اقدامات تر لاس لاندې ونیول شي.

د یادونې وړ ده، چې شفلوغ بند د ۲۳ متره په لوړوالي او ۱۵۵ متره په پلنوالي سره د ۸ سوه، ۵۴ زره او ۱۰۶ متره مکعب اوبو د زېرمه کولو وړتیا لري او ۲۵۹ هکتاره کرنیزه ځمکه خړوبوي.#

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د قزاقستان...

...د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوه اړخیزې سوداگرۍ د پراختیا په اړه وویل، افغانستان د اوسپنې پټلۍ له لارې د وارداتو او صادراتو لپاره د عملیاتي شرکت په تأسیس کار شروع کړی، چې ژر به قزاقستان ته ورمعرفي شي، د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د نړیوال حمل او نقل او ترانسپورټ په اړه د موافقتنامې مسوده ترتیب کړې، له افغانستان څخه په تېریدونکو ترانزیټي اموالو باندې د فیس کمولو په اړه هم جدي کار روان دی، له ایران، قزاقستان او ترکمنستان سره په صنعتي، سوداگریز او ترانسپورټي ډگر کې د همکارۍ موافقتنامه هم ترتیب شوې چې په یادو برخو کې د قزاقستان همکاري مهمه ده.

وروسته د قزاقستان لومړي وزیر وویل، قزاقستان له افغانستان سره ښې اړیکې لري او د لا پراختیا لپاره به یې په نږدې ورځو کې د بهرنیو چارو وزیر کابل ته سفر وکړي. لومړي وزیر زیاته کړه، ژر به په افغانستان کې د تورغونډۍ –هرات اوسپنې پټلۍ پروژه کې د ۵۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت پانگونه پیل کړي. هغه د قزاقستان له لوري د افغانستان په کانونو کې پانگونې ته هم لېوالتیا وښوده او ویې ویل، چمتو دي چې له افغانستان څخه د میوو واردات زیات او همداراز د قزاقستان له خاورې د افغانستان صادراتو ته اړینې اسانتیاوې رامنځته کړي.

لومړي وزیر وویل، قزاقستان د لسو هغو هېوادونو له جملې څخه دی چې له افغانستان سره زیاتې سوداگریزې اړیکې لري او دوی د دې اړیکو پراختیا ته ژمن دي.#

# بازدید معاون اداری ریاست‌الوزراء از روند بازگشت مهاجرین در بندر...

...محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست‌الوزراء در حالیکه از سوی محترم شیخ محمد قاسم خالد والی نیمروز، تعدادی از مسئولین امارتی و مسئولین هیئت های موظف کمیسیون عالی رسیدگی به مشکلات مهاجرین همراهی می‌گردید، از روند بازگشت مهاجرین عودت‌کننده از ایران در بندر پل ابریشم ولایت نیمروز بازدید بعمل آورد.

در جریان این بازدید، معاون اداری ریاست‌الوزراء از نزدیک روند بازگشت مهاجرین را نظارت نمود و به مسئولین هیئت‌های مربوطه در خصوص رسیدگی به امور مهاجرین عودت کننده در اسرع وقت، هدایات لازم داد.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی ضمن بازدید و بررسی امور خدمات صحی، ثبت، تثبیت، اسکان موقت مهاجرین، انتقال آنان به ولایات اصلی شان، تنظیم امور مالی و ارائه سایر خدمات به مهاجرین عودت کننده، از تلاش‌های خالصانهٔ هیئت‌های مربوطه در زمینه های متذکره تقدیر کرد.

معاون اداری ریاست الوزراء همچنان خواست ها و مشکلات هموطنان بازگشت کننده را استماع نمود و به مسئولین مربوطه تاکید کرد تا به نیازهای اساسی مهاجرین رسیدگی نمایند.

در اخیر محترم مولوی عبدالسلام حنفی تصریح نمود که امارت اسلامی تمام تلاش خود را به کار می گیرد تا به هموطنان عزیز ما که از کشورهای همسایه عودت می‌کنند همکاری لازم صورت گیرد.#

# جلسهٔ کمیسیون اداری تدویر یافت



جلسهٔ کمیسیون اداری تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء و با اشتراک اعضای کمیسیون متذکره برگزار گردید.

در این جلسه، ابتدا کمیته‌های موظف راجع به فعالیت‌ها و اجراآت شان پیرامون وظایف سپرده شده گزارش ارائه کردند. سپس روی موضوعات مربوط وزارت اطلاعات و فرهنگ، ریاست عمومی ادارهٔ امور و شهر جلال آباد ولایت ننگرهار بحث و بررسی همه جانبه صورت گرفت و در زمینه تصامیم لازم اتخاذ گردید.#

امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
معاونیت ارتباطات عامه و استراتیژیک
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت




صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د باکو له نړیوال بحري بندر څخه لیدنه وکړه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اذربایجان هېواد د باکو له نړیوال بحري بندر څخه لیدنه وکړه.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه بندر امکانات او د انتقالاتو بهیر له نږدې ولیدل او له اذربایجاني مسئولینو یې وغوښتل چې له دې لارې د افغانستان صادراتو ته اسانتیاوې برابرې کړي.
د دغې لیدنې پرمهال چې د باکو نړیوال بحري بندر او اوسپنې پټلۍ مسئولینو حضور درلود، دوی وویل، د دغه بندر له لارې چې د لاجوردو دهلیز په مسیر کې موقعیت لري، ترکیې او اروپا ته د افغانستان د صنعتي توکو، کرنیزو محصولاتو او کاني توکو صادراتو ته چمتو دي. دوی همداراز د اوسپنې پټلۍ په واسطه د ایران له لارې روسیې ته هم د افغانستان د سوداګریزو توکو انتقالاتو ته چمتووالی وښود.
د دې لیدنې پرمهال دواړو لورو ګډې تخنیکي کمېټې وټاکلې، څو د یاد بندر له لارې د ګډې سوداګرۍ او ترانزیټ د رامنځته کېدو په موخه موجوده امکانات او ترانسپورټي لارې و ارزوي او د افغانستان صادراتو ته اسانتیاوې رامنځته کړي.
د باکو نړیوال بحري بندر اوسمهال په کلني ډول د ۱۵ میلیون ټنه توکو د انتقال ظرفیت لري، چې په راتلونکي کې به دا کچه ۲۵ میلیون ټنه توکو ته ورسېږي.#

## د غزني ولایت د سلطان بند د حفظ او مراقبت پروژې چارې د څه باندې ۱۰۹ میلیونه افغانیو په لګښت پرانیستل شوې

۵

## ارزګان ولایت کې د شفلوغ بند جوړولو پروژې چارې پرانیستل شوې

۵

## د هلمند ولایت په سنګین ولسوالۍ کې د نهر السراج کانال د رغولو د لومړي لاټ پروژه پرانیستل شوه

۵

بسم الله الرحمن الرحیم

## عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د قضایي مسئولینو لپاره په جوړ شوي درې ورځني...

...عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په کندهار کې د قاضي صاحبانو لپاره په جوړ شوي درې ورځني اصلاحي او روزنیز سیمینار کې چې د سترې محکمې رئیس، د سترې محکمې معاونین، د نظامي محکمې نظامي مرستیال، د امربالمعروف او نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزیر، د چارو ادارې لوی رئیس، د علومو اکاډمۍ رئیس، د دارالافتا لوی رئیس، د سترې محکمې د تمیز رئیسانو، د تمیز د دیوانونو رئیسانو، د نظامي محکمو رئیسانو او قاضیانو، د ولایتونو د مرافعې محاکمو رئیسانو، د مرافعې د دیوانونو رئیسانو، د ښاري محکمو رئیسانو، د ښاري محکمو د دیوانونو رئیسانو، د ولسوالیو قاضي صاحبانو او د اختصاصي محکمو قاضیانو برخه اخیستې وه، ګډون او ویناوې وکړې.
عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د سیمینار ګډونوالو ته لازم هدایات او مهمې توصیې وکړې، د ټولو مسؤلینو د خدمتونو ستاینه یې وکړه او د سیمینار ګډونوالو ته یې د قضاء حکمت، حکم، اهمیت، شرف او اثبات په اړه د قرآن کریم او سنتو په رڼا کې تفصیلي وینا وکړه او ویې ویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله قضاء کوله، د شریعت احکام یې بیانول، فیصلې یې تنفیذ او حدود یې نافذول.
عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی وویل چې قضاء په اسلامي نظام کې مهم رکن دی، په محاکمو سره د خلکو نفس، مال او عزت ساتل کیږي او د عدل د قضاء په نیت یو ساعت کښېناستل، الله تعالی جل جلاله (په یو روایت کې د شپیته کاله او بل روایت کې د اویا کاله) عبادت ثواب ورکوي، په قضاء سره فتنې او فسادونه له مینځه ځي، عدالت قایمیږي، د اسلامي نظام بقا په عدالت سره راځي او د محاکمو تقویه د نظام تقویه ده.
هغه زیاته کړه، که قضاء نه وي ظالم به ظلم کوي او د مظلوم غږ به څوک نه اوري او فسادونه، فتنې او بد اخلاقي به د ځمکې پرمخ رواج پیداکړي.
عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د قاضیانو په اړه وویل: الله تعالی د ځمکې پر سر د خلکو د اخلاقي او عملي اصلاح لپاره قاضیان مقرر کړي دي، قاضي چې په عدل سره قضاء کوي الله پاک ته ډیر خوښ دی او په اخیرت کې یې ځای جنت دی، په اسلامي نظام کې قاضي د امام وکیل دی او د امام له خوا ورته منشور او اصول ورکول کیږي، قاضي صاحبان په اسلامي نظام کې لوی مسؤلیت لري تر څو په عدل سره په قضاء کولو د خلکو اعتماد پر اسلامي نظام ټینګ شي او د خلکو حقوق خوندي شي.
هغه وویل: دا د الله تعالی احسان دی چې د اسلامي او شرعي نظام د تطبیق لپاره یې زمینه برابره کړي، په اوس زمانه کې دین، اسلام او شریعت راپورته کول زغم، صبر او استقامت غواړي او علماء کرام او قاضي صاحبان دې دین، اسلام، او شریعت په عملي کولو سره خلکو او دنیا ته ښکاره کړي.
هغه زیاته کړه: د جهاد د اهدافو په عملي کولو کې لوی رول د محاکمو دی او محاکم به دین او د اسلام احیا کوي او اسلامي عقیدې، د شریعت تنفیذ او اسلامي اخلاقو ته به ترویج ورکوي او ټول نظام د محاکمو تر شا ولاړ دی.
جناب عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د خپلې وینا په اخیر کې قاضي صاحبانو ته په تقوا، تواضع، عاجزي او د خلکو ترمنځ په عدل کولو سره مهمې لارښوونې وکړې او زیاته یې کړه، په قضاء کې یوازې د الله تعالی رضاء مقصود وګرځوئ، په عدل قضاء کولو سره د خلکو د هدایت ذریعه جوړ شئ، قاضي که په عدالت ودرېږي، الله تعالی به یې نصرت وکړي، د خپلو ترسره شوو قضایاوو او تجربو اړوند کتابونه او رسالې ولیکئ او نشر یې کړئ، تر څو راتلونکي قاضي صاحبان ستاسو د تجربو څخه ګټه واخلي او ځوان قاضي صاحبان دې د سپین ږیرو علماوو او قاضي صاحبانو سره ناسته کوي او د هغو له تجربو څخه دې ګټه واخلي، کوښښ وکړئ په قضاء کې علماء او نوي نسل و روزئ، په قضایي امورو کې یو د بل سره تذکیر او مذاکرې کوئ، د خپلو بندیانو خاص خیال وکړئ، بې سرنوشته بندي په محبس کې مه پرېږدئ، د مدعي او مدعی علیه ترمنځ مساوات وکړئ، په فیصله کې د چا مراعت مه کوئ او د ټولو ادارو سره همکاري وکړئ.
وروسته سیمینار نظام او خلکو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی لخوا د دعایې په لوستلو سره پای ته ورسېد والسلام.#

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د قزاقستان لومړي وزیر سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اذربایجان هېواد په خنکندي ښار کې د قزاقستان له لومړي وزیر سره وکتل.
د دې لیدنې پرمهال د افغانستان او قزاقستان ترمنځ پر سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو موضوعاتو خبرې وشوې.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند قزاقستان د افغانستان لپاره مهم او د باور وړ سیمه‌ییز شریک وباله او د افغانستان لپاره یې د دغه هېواد له لوري د ځانګړي استازي ټاکل کېدل غوره ګام یاد کړ. هغه له قزاقستان جمهوریت مننه وکړه چې په نړیوالو ستېجونو یې د افغانستان ملاتړ کړی.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانستان د قزاقستان لپاره منځني ختیځ او جنوبي اسیا ته د ترانزیټ مهمه لار ده او همداراز قزاقستان کولی شي چې افغانستان له اروپا سره ونښلوي. پر همدې اساس دې قزاقستان د پانګونې، سوداګرۍ، ریل پټلۍ او په ترانزیټي چارو کې له شته فرصتونو څخه استفاده وکړي.
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان او قزاقستان ترمنځ درې میلیارد ډالرو ته د سوداګرۍ کچې رسېدو په موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ د کرنیزو توکو د حفظ او قرنطین د موافقتنامې لاسلیک کېدل، افغانانو ته د ویزو ورکړې په برخه کې اسانتیاوې برابرول او د قزاقستان په زمان او ازادۍ بانکونو کې د افغاني بانکونو د حسابونو پرانیستل مهم وبلل. هغه په دې برخه کې د افغاني بانکونو د چمتووالي ډاډ ورکړ...

۵

## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با والی و مسئولین ولایت یون‌نن جمهوری مردم چین

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء و هیات همراه اش با آقای وانگ یوبو والی ولایت یون‌نن جمهوری مردم چین و سایر مسئولین آن ولایت، دیدار نمودند.
در این دیدار هر دو جانب در مورد همکاری‌های اقتصادی، تجارتی، صحی، آموزشی و اکادمیک میان افغانستان و چین بحث و تبادل نظر نمودند و در خصوص تقویت روابط دو جانبه در عرصه های مختلف تأکید ورزیدند.
آقای وانگ یوبو گفت که چین از سیاست افغانستان در زمینه همکاری‌های اقتصادی استقبال می‌نماید و مایل است با تبادل تجربیات در عرصه‌های مختلف، همکاری‌های خویش را بیشتر نموده و تداوم بخشد.
متعاقباً محترم مولوی عبدالسلام حنفی پروژه بزرگ یک کمربند و یک راه جمهوری مردم چین را منحیث جاده نوین ابریشم یاد نموده، گفت که امارت اسلامی افغانستان از این پروژه بزرگ حمایت می‌نماید.#

## له اعتیاد څخه رغېدلو ۸۰۰ تنو ته د فني او حرفوي زده‌کړو...

...د کار او ټولنیزو چارو وزارت اړوند د پلچرخي د فني او حرفوي زده کړو په مرکز کې له اعتیاد څخه رغېدلو ۸۰۰ تنو ته په پنځو حرفو کې د زده‌کړو زمینه برابره شوه.
په همدې مناسبت جوړې شوې غونډې ته د فني او حرفوي زده‌کړو د مراکزو د تنظیم رئیس مولوي عبدالواحد فایز راغلو مېلمنو ته د ښه راغلاست سربېره له اعتیاد څخه رغېدلو اشخاصو ته د فني او حرفوي زده‌کړو دا برنامه ارزښتناکه وبلله او له هغوی یې وغوښتل، ترڅو له شته فرصت او امکاناتو څخه په لازمه استفاده او خپلو زده‌کړو ته پاملرنه وکړي. ورپسې د کار او ټولنیزو چارو وزارت د کار چارو معین الحاج مولوي محمد زاهد احمدزي په خپلو خبروکې وویل: دا وزارت د خپلو نورو مسئولیتونو ترڅنګ، له اعتیاد څخه رغېدلو اشخاصو ته د فني او حرفوي زده‌کړو د زمینې برابرولو په لړ کې دا دی بیاځلې ۸۰۰ تنو هېوادوالو ته په پنځو (خیاطۍ، بوټ‌ګنډلو، بیګ‌ګنډلو، د ودانیو برېښنا او د کورنیو برېښنایي توکو د ترمیم) حرفو کې د څلورو نیمو میاشتو لپاره برنامه جوړه کړه، چې موږ او تاسو یې د پرانیستې شاهدان او ګډونوال یو. د کار چارو معین زیاته کړه چې دا لړۍ نه یوازې په کابل، بلکې په ځینو نورو ولایتونو کې هم دوام لري، چې تراوسه څه باندې شپږ زره تنه له اعتیاد څخه رغېدلي اشخاص له دې برنامو څخه مستفید او د ټولنې د سالمو انسانانو په توګه د خپل کسب او کار مالکان ګرځېدلي دي او دمګړۍ د خپلې کورنۍ د نفقې او سرپرستۍ مسؤلیت په غاړه لري.
په پای کې د کورنیو چارو وزارت د نشه‌یي توکو د اړتیاوو د کمښت رئیس مفتي عبدالحق مطیع په خپلو خبرو کې په هېواد کې د نشه‌یي توکو د کښت کمېدل او قاچاق مخنیوی، په ټول هېواد کې په اعتیاد د اخته کسانو راټولول، درملنه او په فني او حرفوي زده‌کړو سمبالول یې له نشه‌یي توکو سره د جدي مبارزې مهمې برخې یادې کړې.#

